UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communications
Briefing to the Security Council
http://unama.unmissions.org

# ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سرمنشي د ځانګړي استازي، ښاغلي نیکولاس هیسم راپور

[په هغه بڼه، چې وړاندې شوی]

## نیویارک، ۲۰۱۵ کال د ډسمبر ۲۱مه

***

آغلې رئیسې او د شورا غړو،

زه غواړم په لنډه توګه د هغه وضعیت په اړه معلومات ورکړم چې افغانستان د بدلون د لسیزې د لومړي کال په پای کې ورسره مخ دی، او همدا راز هغه ننګونې روښانه کړم چې په ۲۰۱۶ کال کې ورسره مخامخېږي.

د ۲۰۱۴ کال په پای کې د نړیوالو ملکي او پوځي ځواکونو وتل او سیاسي انتقال دواړه هممهاله ترسره شول او افغانستان یې له دري ګونو – اقتصادي، امنیتي او سیاسي – ننګونو سره مخامخ کړ.

د ملي یووالي حکومت، چې د یوه سیاسي کړکېچ په پایله کې رامنځته شه، یو کمزورې کېدونکی اقتصاد، تشه خزانه او داسې جګړه ورته په میراث پاتې شوه چې په کار وه د نړیوالو پوځي مرستو د کموالي په حال کې یې مخته وړې وای. له دغو حالاتو څخه هېڅ یو یې هم د دې حکومت له امله رامنځته شوې نه و. په رښتیا هم، مخکې له مخکې د یو ستونزمن کال تمه کېده. په داسې حال کې چې ولسمشر غني دولس ورځې مخکې په اسلاماباد کې د بین‌الوزارتي غونډې پر مهال خپله هم وویل، افغانستان به په ۲۰۱۵ کال کې د خپلې بقا لپاره مبارزه کوي.

په اقتصادي برخه کې د حکومت لخوا د راټولو شوو او لګول شوو عوایدو ترمنځ مالي تشه به د اندیښنې وړ وي. بېوزلي زیاته شوې او د اقتصادي ودې کمښت د بېکارۍ او په تېره بیا د ځوانانو ترمنځ له دې سره ملې ناهیلۍ لامل شوی دی. اداري فساد لا هم شته او پر وړاندې یې مبارزه بریالۍ شوې نه ده.

په امنیتي برخه کې په ټولیز ډول وضعیت خراب شوی ځکه افغان ملي امنیتي ځواکونه د نړیوال پوځي ملاتړ د خورا زیات کمښت په صورت کې له زیاتو جګړو سره لاس او ګرېوان دي. ملکي وګړي د تل په څېر د جګړې اصلي قربانیان دي، ځکه چې د مرګ‌ژوبلې شمېر په پرله‌پسې ډول لوړېږي او ډېر خلک د جګړې له امله له خپلو کورونو بې‌ځایه شوي دي.

په سیاسي ډګر کې د ملي یووالي حکومت کله ناکله د لازم ملي یووالي د څرګندولو په برخه کې له ستونزو سره مخ شوی او د خلکو لخوا د ملاتړ کچه یې په څرګند ډول راټیټه شوې ده. یو خورا لانجمن او پیاوړی سیاسي اپوزیسیون هم راڅرګند شوی، چې د امنیتي وضعیت د خرابوالي او اقتصادي رکود له امله رامنځته شویو اندیښنو په پایله کې جوړ شوی دی.

ډیری افغانان د دې وضعیت له کبله د راتلونکي په اړه اندیښمن دي. ځینې يې ښکاره داسې فکر کوي چې، د هېواد له پرېښودو پرته بله چاره نلري څو په یو بل ځای کې د اقتصادي او امنیتي فرصتونو او امکاناتو په لټه کې شي.

آغلې رئیسې او د شورا غړو،

په داسې حال کې چې دا واقعیتونه باید ومنو، موږ همدا راز باید په یاد ولرو چې د افغانستان ثبات ته د رسېدو او پر ځان بسیاینې پر لور بیولو کې د پام وړ زیات ګامونه اخیستل شوي دي.

سره له دې چې ننګونې دومره پراخې او پېچلې دي چې که هر حکومت وای، پر وړاندې به يې د مقابلې لپاره خپل ځان ازمویه، خو له دې سره سره بیا هم پرمختګ شوی دی.

د ملي یووالي حکومت په سیاسي ډګر کې خپل یووالی ساتلی او خپله اجنډا مخته وړي، چې پکې د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر د سیاسي هوکړې د شرایطو پلې کول او همدا راز د ملکي خدمتونو د مسلکي کولو هڅې شامل دي. د پرمختګ یوه بېلګه د ټاکنیزو اصلاحاتو د ځانګړي کمېسیون د دویمې او وروستۍ سپارښتنو د ټولګې ننۍ سپارنه ده. زه د دې بهیر د بشپړېدو په تمه یم، ځکه چې دا به د ټاکنو د مهالوېش د برابرولو زمینه برابره کړي او پر ټاکنیزو بنسټونو او دیموکراتیک بهیر باندې د خلکو د باور بېرته زیاتولو پر لور به یو بل ګام وي.

ملګري ملتونه لا هم پر خپل دې دریځ ټینګ ولاړ دي چې د ملي یووالي حکومت لپاره بله عملي او د تطبیق وړ بدیله لاره نه شته، او دا هغه ټکی دی چې د افغانستان د سیاسي اپوزیسیون ډېری برخه هم ظاهراً دغه حقیقت مني، څرنګه چې درې ورځې وړاندې په کابل کې د سیاسي منتقدینو په غونډه کې هم دا موضوع څرګنده شوه. موږ د حکومت دننه او بهر د دوامداره خبرو اترو او سلا مشورو ملاتړ کوو او دوی هڅوو څو د هدف په برخه کې لا زیات یووالی، په ځانګړې توګه د سیاسي نخبګانو ترمنځ، رامنځته شي ځکه چې دا یووالی د خلکو د باور زیاتولو، د حکومتولۍ اصلاحاتو او د پوځ د روحیې او مورال لپاره اړین دی.

حکومت په اقتصادي ډګر کې خپله د اصلاحاتو اجنډا پر مخ بیايي، چې دا د"متقابلې حساب ورکونې له لارې پر ځان بسیاینې چوکاټ" او د دې چوکاټ په سنجول شوي تطبیقي پلان کې هم بیان شوې ده. که څه هم اقتصادي وده ټیټه ده، خو تمه کېږي چې په راتلونکو کلونو کې به لوړه شي. کله چې دا حکومت په ۲۰۱۴ کال کې واک ته ورسېد، د همدغه کال په پای کې د پام وړ مالي کسر سره مخ و. کورني عواید په ۲۰۱۵ کال کې زیات شوي او حکومت ډاډ ورکړی چې له دویم مالي بحران څخه يې مخنیوی کړی، که څه هم دا حالت تر ډېره له دې لارې مدیریت شو چې د پراختیايي بودیجې لپاره ځانګړې شوې پیسې ونه لګول شوې.

زه د حکومت ستاینه کوم چې د اوږدمهاله اقتصادي پرمختګ لپاره د اساسي بنسټونو د جوړولو هڅو ته يې دوام ورکړی، چې پکې د سیمه ایزې اقتصادي همغږۍ د پیاوړتیا لپاره زیاته ژمنتیا هم شامله ده. موږ په دې اړه د "د آسیا زړه–استانبول" پروسې د غړو له خوا په اسلام‌اباد کې د وزیرانو کچې وروستۍ غونډې په ترڅ کې د ګډو موخو لپاره د بیا ژمنتیا هرکلی کوو. همدارنګه غواړم تېره اونۍ په عشق اباد کې د ټاپي ګازو د نل لیکې د پرانیستې مراسمو ته ستاسې پام راواړوم، چې به د انرژۍ اړمن افغانستان، پاکستان او هند ته د ترکمنستان طبیعي ګاز ولېږدوي. دا یوه د پام وړ لاسته راوړنه ده، او دا څرګندوي چې افغانستان له خپلو ګاونډیانو سره په ګډ کار کې څه ترلاسه کولای شي.

په امنیتي ډګر کې افغان ملي امنیتي ځواکونو د بلواګرو او یاغیانو د زیاتو فعالیتونو پر وړاندې مقاومت ښودلی دی. البته د ځو مهمو ولسوالیو د مرکزونو او د کندز ښار د ولایتي مرکز د لنډې مودې لپاره له لاسه ورکول اندېښمنوونکې پېښې وې او د افغان ملي امنیتي ځواکونو لوېې نیمګړتیاوې یې څرګندې کړې. خو سره له دې، نږدې ټول د ولسوالیو مرکزونه او د کندز ښار بېرته نیول شوي او د امنیتي ځواکونو تر کنټرول لاندې راغلي دي. د افغان ملي امنیتي ځواکونو ظرفیت ښایي محدود وي، خو تر ډېره بریده دوی خپله خاوره ساتي. له همدې امله، اړتیا ده چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د فعالیتونو په ښه والي باندې کار وشي، په ځانګړې توګه په لوژستیکي او اداري برخو او اصلاحي اقداماتو باندې تمرکز وشي څو مورال یې لوړ شي، د پوځ له لیکو څخه د تېښتې کچه راکمه شي او همدارنګه د هوایي ملاتړ ظرفیتونو لوړولو کې د دوی د هڅو لپاره دوامداره نړیوال ملاتړ وشي.

آغلې رئیسې او د شورا غړو،

افغانستان د یو خپلواک ملت په توګه، چې له ګڼو ننګونو سره مخ دی، د مسؤولیتونو د لېږد بهیر وروسته خپل لومړی کال تېر کړ، چې پخپله یوه لاسته راوړنه ده. خو په ۲۰۱۶ کال کې دا خورا مهمه ده چې د ملي یووالي حکومت خپل مؤثریت په واضح ډول نه یوازې د افغان ولس لپاره، بلکې د هغو مرستندویه هېوادونو او تمویلوونکو لپاره هم څرګند کړي، چې حکومت پرې په لویه کچه د مالي، مادي او تخنیکي ملاتړ له پلوه بسیا دی.

نړیواله ټولنه به په ۲۰۲۶ کال کې د خپلو مرستو د کچې او نوعیت په اړه خورا مهمې پرېکړې وکړي. د ناټو غړي هېوادونه به په وارسا کې د څلورو نورو کلونو لپاره د خپلو نظامي مرستو ژمنه وکړي، په داسې حال کې چې په بروکسل کې به مرستندویه ټولنه د خپلو نویو ملکي مرستو ژمنه تازه کړي.

نړیواله ټولنه، که څه هم د افغانستان ملاتړ ته ژمنه ده، خو بیا هم اړ ده چې ستونزمنې پرېکړې وکړي، ځکه چې د نړۍ نورې برخې هم نړیوالې پاملرنې ته اړتیا لري او سرچینې هم محدودې دي. له همدې له امله، دوی باید ډاډ ترلاسه کړي، نه یوازې دا چې د دوی مرسته د څرګندو اړتیاوو پوره کولو لپاره ده، بلکې دا چې ملموسې اغېزې به هم ولري. افغانستان باید په ځانګړې توګه وښیي چې د اداري فساد پر وړاندې مبارزې، د حکومتولۍ اړینو اصلاحاتو پلي کولو او د راتلونکي لپاره د هیلې رامنځته کولو ته ژمن دی، چې دا کړنې به د کډوالۍ کچه راکمه کړي. یوناما به مرستندویه هېوادونه هڅوي چې د مهاجرو د منلو پر ځای په افغانستان کې د بیا رغونې او امنیت په برخه کې پانګونه وکړي.

آغلې رئیسې او د شورا غړو،

په اوږدمهال کې یوازینی پرمختګ چې یوه باثباته او پر ځان بسیا افغانستان پر لور حقیقي پرمختګ ته به لاره هواره کړي، دا دی چې افغانان په خپل منځ کې دې هوکړې ته ورسېږي چې د کومو ترتیباتو او شرایطو له مخې کولای شي په سوله او برابرۍ کې یوځای ژوند وکړي.

جګړه د افغانانو پر وړاندې د اوسنیو کړاوونو سربېره، د سیاسي او اقتصادي پرمختګ د هڅو چې په پایله کې به یې ثبات ټینګ شي، مخه هم ډب کوي. د ناامنۍ له امله د پام وړ انساني او مادي سرچینې بندېږي یا بل لوري ته ځي. دا حالت تر نامعلوم وخت پورې همداسې دوام نشي کولای او ژر یا وروسته به هغه مالي منابع چې اوس د دې هېواد لپاره موجودې دي، کمې شي، نو افغانستان ته په کار ده چې سولې ته د رسېدو لپاره یوه سیاسي لاره پیدا کړي.

د کال په پیل کې د ځینو هیلهبښونکو پرمختګونو، په ځانګړې توګه د جولای په میاشت کې د مري په خبرو کې، وروسته، د سولې هڅې یوې بن‌بست ته ورسېدې، ځکه چې د طالبانو رهبري پاشلې ښکاري او د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې هم ستونزې راڅرګندې شوې. د کندز پېښې هم په دې اړه د ځینو خلکو پوښتنې راولاړې کړې چې آیا د سولې خبرو لپاره وخت مناسب دی او که نه. د سولې بهیر په برخه کې د پرمختګ د تحرک له لاسه ورکول خواشینوونکي و، خو دا جوته ده چې د سولې بهیرونه ډېر کم وخت په مستقیمه توګه او له کومو ستونزو پرته پرمخ ځي.

موږ د افغان دولت لخوا د سولې بهیر لپاره د دوی د هغې ژمنې هرکلی کوو، چې د ډسمبر په ۹مه نېټه یې په اسلام اباد کې په خپلو څرګندونو کې وکړه.

زه په طالبانو باندې، چې لا هم د سولې له بهیر سره یوځای کېدو ته ژمن نه دي، غږ کوم چې د حکومت ژمنتیا ته بالمثل ځواب ورکړي او له حکومت سره مخامخ خبرو ته کېني. د بلواګرو ډلو لپاره د خپلو هیوادوالو د هوساینې او سوکالۍ په خاطر د شخړې د حل لپاره د سوله‌ییز حل لټولو پرته بله هېڅ لاره نشته. د سیاسي موخو د ترلاسه کولو لپاره په تاوتریخوالي تکیه کول د دوی د نیتونو په اړه پوښتنې راپورته کوي.

آغلې رئیسې او د شورا غړو،

یوناما به د ۲۰۱۶ کال په اوږدو کې له افغان حکومت او خلکو سره د سولې لپاره د بنسټیزو کارونو په ترسره کولو کې مرسته او ملاتړ وکړي.

یوناما به د خپلو پراخو هڅو د یوې برخې په توګه له طالبانو سره د بشري حقونو، بشري مرستو ته لاسرسي او سیاسي تعامل په برخو کې د تعامل لپاره د خپلې درې اړخیزې تګلارې تعقیبولو ته دوام ورکړي.

موږ به د بشري حقونو په برخه کې، د طالبانو سره، لکه د حکومت په څېر، د ملکي وګړو د خوندیتوب او د ښځو او ماشومانو د حقونو په برخه کې خبرې اترې وکړو. موږ د نړیوالو بشري حقونو او بشردوستانه قوانینو د درناوي او رعایت کولو هڅې دوامداره ساتو.

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو ادارې به په بشردوستانه چارو کې، د طالبانو سره، بیا هم لکه د حکومت په څېر، د اړمنو کسانو لپاره د افغانستان په هر ځای کې چې وي، روغتیایي خدمتونو ته د بشردوستانه لاسرسي د لا زیاتولو هڅو ته دوام ورکړي، او په ورته وخت کې به د پولیو واکسینو په ګډون د دغه ډول مرستو رسوونکو د خوندیتوب ډاډ به هم رامنځته کړي.

موږ به د سیاسي مسایلو په تړاو خپلو هڅو ته دوام ورکړو څو د حکومت په لارښوونه او ملاتړ له طالبانو سره وګورو، څو د سولې بهیر ته د ننوتلو ممکنه دروازې او هغه لارې چارې وپلټو چې د خبرو لپاره تر ټولو غوره بنه طرحه او پلې کړو، څو په یوه مناسب سیاسي تعامل کې باور او اعتماد رامنځته شي. موږ په ۲۰۱۵ کال کې د خبرو اترو او نورو پروګرامونو لپاره څو داسې وړاندیزونه وړاندې کړل، چې له بده مرغه ګټور ثابت نه شول.

موږ د حکومت د استازو او طالبانو د رهبرۍ ترمنځ د مستقیمو او مخامخ مذاکراتو لپاره د لومړي پړاو خبرو اترو لپاره په خپله غوښتنه کلک ولاړ یو. موږ د دغه بهیر د ملاتړ په موخه د ډسمبر په ۹مه نېټه د پاکستان، امریکا متحده ایالاتو او چین لخوا په ځانګړې توګه د ترسره شوو هڅو منندوی یو.

یوناما د سولې بهیر د رامنځته کولو لپاره د ټولو هڅو ملاتړ کوي. موږ د هر ډول اسانچاري رول په لوبولو سره د منځګړیتوب وړاندیز کوو، خو دا په ډاګه وایو چې د سولې هر ډول بهیر باید د افغانانو په مالکیت او مشرۍ وي.

***